**د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت**

**د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۱/جمادی الثاني /۱۴۴٦ هـ، ق مطابق۲۳/ قوس/۱۴۰۳هـ، ش**

# د لمونځونو د پريښودلو دُنيوي او اُخروي نقصانات

بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمد لله الذي شرع لعباده أكمل الشرائع، وفرض عليهم أجل الفرائض، وأوجب عليهم من العبادات، ما يصلون به إلى أسمى الغايات، وأنبل المقاصد وأرفع الدرجات، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن نبينا محمداً عبده ورسوله، ومجتباه من خلقه ومصطفاه من أنبيائه ورسله، اللهم صلِّ و سلم وبارك عليه وعلى آله و صحبه، ومن سار على نهجه ، ودعا بدعوته إلى يوم الدين، أما بعد:**

**قال الله سبحانه وتعالى: {وَأَقِيمُوا الصَّلاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ}البقرة: (٤٣)**

**درنو حاضرينو او اوريدونکو!** **السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

د بعضې عباداتو موقع کله کله راځي لکه روژه چې په کال کې يو واری فرض ده او بعضې عبادات بيا پرټولو خلکو فرض نه وي لکه حج او زکات چې يواځې پر غني باندې فرض دي؛ خو په عباداتو کې يوداسې عبادت دی چې پر ټولو عاقل او بالغ مسلمان باندې يوشان فرض دی که هغه امير وي ، که عادي کس وي ، که هغه غني وي او که فقير وي او دلمانځه له فرضيت څخه هيڅوک مستثنی نشته او په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ پرهرچا فرض دی. او لمونځ په عباداتو کې تر ټولو مهم او ضروري عبادت دی ؛ مگر ډير کم مسلمانان پر لمانځه باندې پابندي کوي د دی وجه دا ده چې زمونږ عمليه قوت کمزوری دی او دا قوت څکه کمزوری دی چې زمونږ علميت کم دی که موږ ته د گناهونو ضرر پوره معلوم وای، نو موږ به د لمانځه پر پريښودلو باندې هيڅکله جرأت نه وای کړی لکه د زهرو نقصان چې مونږ ته معلوم دی؛ نو ورڅخه ځانونه ساتو او دامتحان او تجربې لپاره هم ورڅخه څکه نه کوو.« اصلاح المسلمين اشرف علي تهانوي»

د لمونځونو پريښودل زيات دُنيوي او اُخروي نقصانات لري، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**۱- د لمونځونو په پريښودلو کې د الله جل جلاله د حکم او امر لويه نافرماني ده.**

په قرآن کريم کې (داقيموا الصلاة) جمله دولس ځای ذکر شوی ده او په نورو بې شميره تعبيرونو او صيغو سره د لمانځه د قائمولو ذکر راغلی دی او الله تعالی په قرآن کريم کې ځای پرځای د لمونځونو په قائمولو امرکړی دی؛ حتی چې د کفارو سره د جګړې

پرمهال هم د (صلاة خوف) په اداء کولو حکم شـوی دی، چې دا د لمانځه د اداء کولو پر اهمیت او ضرورت دلالت کوي.الله تعالی په یو آیت کې فرمايلي دي:(وَأَنْ أَقِيمُواْ الصَّـلاةَ وَاتَّقُوهُ وَهُوَ الَّذِيَ إِلَيْهِ تُحْشَرُـونَ) الأنعام:(۷۲) ترجمه: (او بل په دې حکم شـوی دی مونږ ته) چې قائموی (سم اداء کوئ سره له ټولو حقوقو) تاسې لمونځ او وويرېږئ تاسې له دغه (الله) نه، او دغه الله همغه ذات دی چې ده ته به ورټول کړی شئ تاسې( په قیامت کې).

په یو بل مبارک آیت کې فرمايلي دي: (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ).البقرة: (۲۳۸)

ترجمه:- ساتنه کوئ تاسې ! پر (ټولو ) لمونځونو باندې او (خصوصا ) په لمانځه منځنې باندې (چې مازديگر دی)، او ودرېږئ تاسې ! الله ته وېرېدونکي (په ادب سره).

په یو بل مبارک آیت کې یې فرمايلي دي: (وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُشْرِكِينَ )الروم: (۳۱)

ترجمه:- او قائموئ (سم دروئ سره له ټولو حقوقو )لمونځ او مه کېږئ تاسې له مشر کانو

**۲- د لمونځونو پرېښودونکو او ضائع کوونکو ته به په آخرت کې د جهنم په سختو کندو کې عذاب ورکولی شي.**

الله تعالی فرمايلي دي:( فَخَلَفَ مِنْ بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا).مريم(۵۹)

ترجمه:- پس پیدا شـول پس له دوی نه (داسـې (بد) خلیفګان چې ضـایع کړ دوی لمونځ او متابعت وکړ دوی دشـهواتو (نفسـاني خواهشاتو)پس زر به یوځای شي دوی له بد عاقبت څېل سره

**توضيح:** د[غَيًّا] په معنی کې مفسرين ليکي چې د [غيًّا] څخه په آخرت کې لوی تاوان مراددی. ځينې نور وايي چې د[غيًّا] څخه شر مراددی ، ځينې نور بيا وايې چې [غيًّا] د جهنم په بيخ کې د لوی کندې نوم دی، ځينې نور بيا وايې چې [غيًّا] په جهنم کې د وينو او زوو د کندې نوم دی او ځينې نور بيا وايي چې [غيًّا] د جهنم څخه لاندې د هغه دوه کوهيانو نوم دی چې د جهنميانو وينې او زوې ورته وربهيږي. تفسير ابن کثير (۳ /۱۵۸)

**۳- الله تعالی د لمانځه پرېښودونکو ته او د لمانځه ناوخته اداء کوونکو ته د هلاکت ښيراوې کړي دي.**

الله تعالی وايي هلاک دې وي هغه خلک چې د لمونځونو څخه غافله وي. الله جل جلاله فرمايلي دي: (فَوَيْلٌ لِلْمُصَـلِّينَ .الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلاتِهِمْ سَاهُونَ) الماعون: (۵)

ترجمه:- پس هلاکت ،افسوس کنده د دوزخ يا خرابي ده لپاره د لمونځ کوونکو هغه کسان چې دوی له لمانځه خپله غافله بېخبره وي.

**توضـــيح:** ابو ســـعيد خدري رضي الله عنه وايي: [ويل] په جهنم کې د دوو غرونو منځ دی.عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايې: [ويل] هغه مشـقت لرونکی عذاب دی. ځينی نور وايې :[ويل] د جهنم له دروازو څخه يوه دروازه ده، سيبويه وايي: [ويل] په اصـل کې هلاکت ته ويل کيږي او د هغه چا لپاره استعماليږي چې په هلاکت کې واقع شي، تفسير القرطبي (۲ /۷)

همدارنګه د [ ساهون] کليمې دوه معناګانې شوي دی يو داچې [ ساهون] هغه کسان دي چې دلمونځ وخت ضائع کوي.په حديث شريف کې راځي: سئل رسول الله - صلى الله عليه وسلم - عن ( الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلاَتِهِمْ سَاهُونَ ) ، قال : "إضاعة الوقت " د رسول الله صلی الله عليه و سلم څخه د [ ساهون] په باره کې پوښتنه و شوه ، نبي عليه السلام وفرمايل: چې ددې څخه مراد د (لمانځه) د وخت ضـائع کول دي. يعنې ناسـت وي په بيع او شراء کې يا په بيهوده مجلسـونو کې يې ځان مصروـف کړی وي ؛ کله چې د لمونځ قضاکيدو ته نږدې شي پاڅيږي او څو ټونګې ووهي. بله معنا داده چې د [ساهون] څخه مراد دادی چې دا منافقين چې کله د

مسـلمانانو څخه غائب وي ؛ نو لمونځ نه کوي او کله چې د مسـلمانانو سره وي ؛ نو بیا لمونځ کوي. مختصر تفسـیر البغوي المسـمى بمعالم التنزیل (٨ /١٩٣]

**۴-د لمونځ پریښودونکو ځای به په آخرت کې د سَقَر جنهم وي.**

کله چې مؤمنان په آخرت کې د مجرمانو او جهنمیانو څخه پوښتنه وکړي چې تاسې ولی جهنم ته اچول شوي یاستې نو مجرمین به ورته ووایي: (مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ (٤٢) قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ) المدثر: (٤٣) ترجمه: نو وبه وایي مؤمنان منکرانو ته چې څه شي داخل کړي یئ تاســې (ای منکرانو )په دوزخ کې. وبه وایي (مجرمان په ځواب د مؤمنانو کې چې )نه وو مونږ (په دنیا کې) له لمونځ کوونکیو څخه.

**توضیح:** سقر د جهنم نوم دی او سقر ورته ځکه ویل کیږي چې هغه به جسمونه او روحونه ذوب او ویلي کوي او توروي یی. الزاهر فی معانی کلمات الناس(٢ /١٢٠) د ســقر په تعریف کې الله تعالی فرمایلي دي: (وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَــقَرُ لا تُبْقِي وَلا تَذَرُ لَوَّاحَةٌ لِلْبَشَرِ).المدثر:(٢٩)

ترجمه:- او څه شي پوی کړی یې چې څه دی اور د سـقر ؟. نه پاتې کیږي( ترې هیڅ شـی د غوښـو د بې سـوځولو) او نه پرېږدي (هډوکي بې له سوځولو نه). یعني غوښه او هډوکي به سوځوي.

سوځوونکی تورونکی دی (دغه اور بشره د کافرو) سرېیو لره.

**۵- د لمونځ پریښودل کبیره گناه ده. او د لمونځونو د پریښودلو په باره کې په احادیثو کې سخت وعیدونه ذکر شوي دي.**

په حدیث شریف کې راځي: عن جَابِرٍ يَقُولُ سَـمِعْتُ النَّبِىَّ -صـلى الله عليه وسـلم- يَقُولُ « إِنَّ بَيْنَ الرَّجُلِ وَبَيْنَ الشِّـرْكِ وَالْكُفْرِ تَرْكَ الصَّلاَةِ ». صحیح مسلم (١ /٦١)

ژباړه:- د جابر رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ماد رســول الله صــلی الله علیه وســلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: بیشکه د سړي (مسلمان) او د شرک او کفر ترمنځ د لمونځ پریښودل دي.

**توضیح:** په دې او دیته ورته په نورو حدیثونو کې د لمونځ پریښودل کفر بلل شوي دي چې دا د لمانځه د پریښودلو په باره کې سخت وعید دی او دا حدیث په زجر او وعید باندې بناء دی او معنایې دا سې کیدای شي چې دده عمل د کفارو او مشرکانو د عمل په شان دی او یا داچې د لمانځه په دوامداره توگه پریښودل کفر ته منتج کیږي. یعنې کفار لمونځ نه اداء کوي او مسلمان یې هم نه اداء کوي ؛ نو په ظاهر کې ددوی ترمنځ کوم فرق نه معلومیږي. مســلمان باید د لمانځه پابند اوسي ترڅو دده او د کافر ترمنځ علامه موجوده وي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي ، نبي علیه الســلام فرمایلي دي چې کوم کســان په جماعت سره لمانځه ته نه حاضریږي زړه مې غواړي چې ددوی کورونه ورباندې وسـیزم. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ قَالَ:« لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِالصَّــلاَةِ فَتُقَامَ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى مَنَازِلِ قَوْمٍ لاَ يَشْــهَدُونَ الصَّــلاَةَ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ». صــحیح البخاري (٦ /١٨٦)

ژباړه:- دابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: بیشکه

داســې قصـــد مې کړی چې زه امر وکړم په لمانځه باندې بیا د جماعت لمونځ ودریږي او بیا وګرځم د هغو خلکو کورونو ته چې نه حاضریږي لمونځ ته او وسیزم په دوی باندې ددوی کورونه.

**٦- څوک چې لمونځ پریږدي دداســې شــخص لپاره به د قیامت په ورځ کې نه دلیل وي، نه به ورلره خلاصــی وي او نه روښــنایي او په قیامت کې به د قارون، هامان او أُبی بن خلف سره په صف کې ولاړ وي.**

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا فَقَالَ:« مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ نُورًا وَبُرْهَانًا وَنَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ نُورٌ وَلَا بُرْهَانٌ وَلَا نَجَاةٌ وَكَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ ». مسند أحمد (١١ /١٤١)

ژباړه:- د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله څخه روایت دی ، هغه وایې یوه ورځ نبی علیه الســلام د لمانځه په اړه وویل : څوک چې لمونځ په پابندۍ سره کوی نو دا لمونځ به د ده لپاره په ورځ د قیامت کې نور وي او د حســاب په وخت کې به دده لپاره حجت او دلیل وي او د نجات ســبب به وي او څوک چې د لمانځه اهتمام نه کوی نو د ده لپاره به په ورځ د قیامت کې نور نه وی او نه به د ده سره هیڅ دلیل وی او نه به د نجات هیڅ ذریعه وي ، د ده حشر به د فرعون ، هامان او أبی بن خلف سره وي .

**توضیح:** علماء کرامو ذکر کړي دي چې دلمونځونو د پرېښودونکو حشر به د قارون، فرعون ، هامان او أُبی بن خلف سره څکه کیږي چې د لمونځونو پرېښودونکي به یا په مال باندې مشغوله وي یا به په پاچاهۍ باندې مشغوله وي او یا به په وزارت باندې مشغوله وي او یا به په تجارت باندې مشـغوله وي. څوک چې د مال په وجه د لمانځه څخه مشـغول وي، د هغه حشرـ به د قارون سره کیږي او څوک چې د پاچاهۍ په وجه له لمانځه څخه مشـغول شـوی وي ، د هغه حشرـ به د فرعون سره کیږي او څوک چې د لمانځه څخه د وزارت په وجه مشـغول شـوی وي ، دهغه حشرـ به د هامان سره کیږي او څوک چې په تجارت باندې د لمانځه څخه مشـغول شـوی وي، د هغه حشر به د أُبی بن خلف د مکې د کفارو له تاجر سره کیږي. الکبائر للذهبي (ص: ١٩)

**٧- د لمونځونو پرېښودل د منافقینو صفت دی.**

منافقینو به لمونځونه نه کول چې کله به یواځې وو او کله به چې مســلمانانو لمونځونه کول دوی به هم په ماته ملا سره او په ډېره بې رغبتۍ سره په جماعت دریدل. ددې لپاره چې ونه پیژندل شي ؛ الله تعالی ددوی حالت داســې ذکر کوي:(وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّـلَاةِ قَامُوا كُسَالَى يُرَاؤُونَ النَّاسَ وَلا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلاً ).النساء: (١٤٢)

ترجمه:- او هر کله چې پاڅیږي دغه (منافقان) لمانځه ته؛ نو پاڅیږي ،ســـــت، ښــیي دوی خلکو ته (ځان خپل چې مونږ هم مسلمانان یو )او نه یادوي دوی الله مګر (ریایې یادول) لږ.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي: (وَلاَ يَأْتُونَ الصَّلاَةَ إِلاَّ وَهُمْ كُسَالَى وَلاَ يُنفِقُونَ إِلاَّ وَهُمْ كَارِهُونَ) التوبة: (٥٤)

ترجمه: او نه راځي دوی لمانځه ته مګر په دې حال چې دوی ســست وي، او نه لګوي دوی (د الله په لاره کې هیڅ مال) مګر په دې حال کې چې دوی ناخوښه وي.

**توضیح:** یعنې دوی لمونځ کوي په دا سې حال کې چې سست وي او ثقیل وي ورباندې لمونځ؛ څکه چې دوی د لمانځه څخه کوم امید نلري او نه یې په پرېښودلو کې کومه ګناه ویني او دا عقیده هم نلري چې لمونځ کول ورباندې فرض دي. لمونځ د الله تعالی سره

مناجات کول دي او په کار ده چې دا مناجات په ډېر رغبت ، مینه او محبت او په اخلاص سره پوره او په خپلو ټاکل شــوو وختونو ترسره شي ؛ خو د لمونځ نه کول او یا لمونځ په بې رغبتۍ سره کول د منافقینو صــفت دی. ددې وجې نه عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمایي: دا مکروه دي چې سړی په لمانځه په دا سې حال کې دریږي چې بې رغبته او سست وي ؛بلکې مسلمان ته په کاردي چې لمانځه ته پاڅیږي په پراخه تنډې سره، په کامله خو شحالۍ سره ځکه چې انسان په لمانځه کې د الله تعالی سره خبرې کوي او الله تعالی رحمت ورته مخامخ کیږي او ده ته ښښنه کوي کله چې بنده ورڅخه ښښنه غواړي. ابن کثیر(١ /٧٠١)

د همدې وجی نه په منافقینو باندې ددوه وختونو لمونځونو کول ډېر ســخت وي یو د لماخوســتن لمونځ او بل د ســهار لمونځ . حدیث شریف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَثْقَلَ صَلَاةٍ عَلَى الْمُنَافِقِينَ صَلَاةُ الْعِشَاءِ، وَصَلَاةُ الْفَجْرِ). مسلم (١ /٤٥١)

ژباړه:- دابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل بیشکه ډېر سخت لمونځ په منافقانو باندې د لماخوستن لمونځ دی او د سهار لمونځ دی. بناء کوم کسان چې د لماخوستن او سهار لمونځ پریږدي ؛ نو په عمل کې د منافقانو په شان دی.

**٨- د لمونځونو پریښودلو سره پر انسان باندې شیطان مسلط کیږي .**

څوک چې لمونځونه پریږدي شــیطان ور باندې حمله کوي او ډېر ژر یې ښــکار کوي ؛ ځکه چې لمونځ د مســلمان لپاره ســپر دی. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِى الدَّرْدَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « مَا مِنْ ثَلاَثَةٍ فِى قَرْيَةٍ وَلاَ بَدْوٍ لاَ تُقَامُ فِيهِمُ الصَّلاَةُ إِلاَّ قَدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ ». سنن أبى داود- (١ /٢١٤)

ژباړه: د ابو درداء رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ماد رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: نشــته دری کســـان په یو کلي کې او یا په یوه بانډه کې چې نه قائمیږي په هغوی کې لمونځ ؛ مگر داچې مســلط کیږي ورباندې شیطان او ځان ته یې راکش کوي .

**٩- د لمونځونو په پریښودلو سره او د جماعت په ترک کولو سره د مسلمان په زړه باندې د غفلت مهر لگیږي.**

د لمونځونو په پریښودلو او د جماعت په ترک کولو سره انسان داسې خطرناک نقصان رسیږي چې د هغه په زړه د غفلت مهر لگیږي او د هغه زړه د الله تعالی څخه غافله کیږي. په حدیث شریف کې راځي: عن ابْن عَبَّاسٍ، وَابْنُ عُمَرَ أَنَّهُمَا سَمِعَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ يَقُولُ: عَلَى أَعْوَادِهِ «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجَمَاعَاتِ، أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ، ثُمَّ لَيَكُونُنَّ مِنَ الْغَافِلِينَ» ســنن ابن ماجه (١ /٢٦٠)

ژباړه:- د عبدالله بن عباس او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې هغو دواړو د نبي علیه السلام څخه اوریدلي دي چې نبي علیه السلام د ممبر په پوړیو وفرمایل: خامخا دې منع شي خلک د جماعتونو له پریښودلو څخه او یا داچې خامخا الله تعالی به مهر ولگوي ددوی په زړونو باندې ، بیا به خامخا وگرځي دوی له غافلانو څخه.

**١٠- د لمونځونو په پریښودلو سره دانسان عملونه بربادیږي او په دنیا او آخرت کې د لوی نقصان سره مخ کیږي.**

په حدیث شریف کې راځي: عن عَبْدِ اللَّهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَنْ فَاتَتْهُ الْعَصْرُ فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَمَالَهُ ». صحيح مسلم (٢ /٢١٨)

ژباړه:- د عبدالله بن عمر رضي الله څخه روایت هغه د خپل پلار عمررضي الله عنه څخه روایت کوي چې بیشــکه نبي علیه الســلام وفرمایل: له چا څخه چې دمازیگر لمونځ فوت شو، دا داسې ده لکه چې هلاک شوي وي اهل دده او مال دده.

په یو بل حدیث شریف کې راځي: عن بُرَيْدَةَ قال، فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:«مَنْ تَرَكَ صَلاَةَ العَصْرِ حَبِطَ عَمَلُهُ» البخاري (٢ /٥)

د بریده رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: څوک چې د مازیگر لمونځ پریږدي ، برباد شول عمل دده.

**تو ضیح:** یعنې له دغه لمانځه څخه فائده نشي۔ اخیستلای او مازیگر چې اسمان ته عملونو دختلو وخت دی ، دده عمل به په کې نه خیژي او یا د حبوط څخه مراد د نقصان دعمل مراددی او یا دا رد دی په شکل د تغلیظ کې. شرح القسطلانی علی صحیح البخاري (٤ /١٩٨)

عن أبی هریرة قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلاَتُهُ، فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ، وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ» سنن الترمذي(٢ /٢٧٠)

ژباړه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: بیشکه لومړنی هغه شی چې د هغې په باره کې به د قیامت په ورځ د بنده سره حساب کیږي د هغه د عمل په باره کې هغه به لمونځ وي، که چیرې سم ؤ لمونځ دده ، نو بیشکه کامیاب شو او خپل مقصد ته ورسیده او که چیرې د لمونځ یې فاسد ؤ ، نو تاواني شو او نقصاني شو.

**توضیح:** د (ان صلحت) څخه مراد داده چې لمونځ یې په خپل وخت سره کړی وي او په کامل ډول سره یې کړی وي، دلمانځه شروط، فرائض او سنتونه یې په کې مراعت کړي وي او د( ان فسدت) څخه مراد دادی چې لمونځ یې نه وي کړی او یا یی درست نه وي کړی .

**١١- د لمونځونو په پریښودلو سره مسلمان دالله تعالی د حفاظت، میثاق او امان څخه وځي.**

د حدیث شریف مفهوم دی چې څوک د سهار لمونځ وکړي ، نو هغه د الله تعالی په ذمه کې داخل شو او د الله د ذمې څخه د هغه حفاظت ،امان او عهد مراددی ، نو څوک چې داسې کس ته زیان ورسوي د الله تعالی غضب ورباندې نازلیږي.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ مُعَاذٍ قَالَ: أَوْصَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَشْرِ۔ كَلِمَاتٍ قَالَ:«لَا تُشْرِكْ بِاللهِ شَيْئًا وَإِنْ قُتِلْتَ وَحُرِّقْتَ، وَلَا تَعُقَّنَّ وَالِدَيْكَ، وَإِنْ أَمَرَاكَ أَنْ تَخْرُجَ مِنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ، وَلَا تَتْرُكَنَّ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا؛ فَإِنَّ مَنْ تَرَكَ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ ذِمَّةُ اللهِ» مسند أحمد ط الرسالة (٣٦ /٣٩٢)

ژباړه:- د معاذ رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم د لسو خبرو وصیت او نصیحت کړی دی او راته یې وویل: د الله تعالی سره شریک مه نیسه اگر که ته قتل کړل شی او یا و سوزول شوی او د مور او پلار نافرماني مه کوه ولو که تاته امر وکړي چې ته د خپل اهل او مال څخه ووځه (یعنې اهل او مال دې پریږده). او مه پریږده فرض لمونځ په قصد سره ؛ بیشکه چاچې په قصد سره فرضي لمونځ پریښودلو ؛ نو پورته شو له هغه څخه امان د الله تعالی.

**توضیح:** یعنې د الله تعالی له امن څخه ووتلو په دنیا کې او دتعزیر او ملامتی مستحق وگرځیدلو او په آخرت کې هم مستحق د عذاب وگرځیده. ابن حجر رح وایي: دا کنایه ده د ده داحترام د لمنځه تللو څخه ؛ځکه د لمانځه په پریښودلو ده خپل ځان عذاب ته وراندې کړ.مرقاة المفاتیح (١/ ٣١٠)

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**